AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

اتک یوسفزی

۲۰۱۰/۰۱/۰۵م

# هم دین ولاړ او هم . . .

زموږ په کليو او بانډو کې يو پخوانی نکل لا تر اوسه کارول کيږي. تېره اونی چې د افغانستان د پارلمان وکيلانو د نوي کابينې د نوماندو وزيرانو دمنلو او نه منلو په اړوند کومي نادري (خارق العاده) پرېکړې وکړې، په رښتيا چې ډېر خلک يې هک پک کړل، په ځانګړې توګه هغه نوماندان وزيران ډېر ګوزګوري، خړ او شرمنده شول، چې د ښه کاري وړتيا او ښې کاري تجربې سره سره بيا هم پاتې راغلل او د مصلحت په خام سياست کې يې خپل ګټلي سياسي حيثيتونه پر کنړي سيند لاهو کړل.

پدغو ناسوبه او خړوشويو نوماندو وزيرانو کې يو شمېر هغه سياسي، مذهبي او په اصطلاح ګوندي مشران هم ول، چې د څو لسيزو راهيسې يې ځانونه په هغه او دغه نومونو پر مظلوم ولس پېټی (تحميل) کړي او پر برخليکونويې لوبې (معاملې)کوي.

وايي په يارانه کې بنګړي ماتيږي، په ديموکراسی کې دا ډول پېښې ډېرې رامنځ ته کيږي، که څه هم د نړۍ په کچه لا تر اوسه په کوم هېوادکې دا ډول پېښه نه ده راپېښه شوې خوبيا هم ښايي نړۍ والو ته هومره د تعجب وړ نه وي لکه څومره چې يې موږ او زموږ سياستوال نوماند وزيران لاس تر زنې او د پياتې د خوراک کړل؟!

ښايي ښاغلی کرزی ځينې ناسوبه نوماندو وزيران يوځل بيا پارلمان ته په ګوته کړي.

خو زه يوه انديښنه د تېرو تجربو له مخې هغو نوماندانو ته وړانديز کوم چې په ځانونوکې لا تر اوسه د سياسي، قومي او مذهبي ګوندونو (LEADERSHIP) د لارښووني او رهبرۍ متره ويني.

د راپورونو له مخې ښاغلي کرزي پرېکړه کړې چې يو شمېر ناسوبه نوماندان بيا پارلمان ته وروپېژني، نو ښه به داوي چې پدغو نوماندانو کې هغه ښاغلي چې لاتر اوسه ځانونه ليډرشيپ ګڼي، له بيا نوماندۍ پخپله تېر شي، مخکې لدې چې بيا په خوشباورۍ کې خپل يو پوړی شانتې پاتې شوی حيثيت هم له خاورو سره خاورې کړي، ښه به وي چې د سياسي جنون پر ځای دا ځل له سياسي بيدارۍ نه کار واخيستل شي او کوم بل وړ کس ښاغلي کرزي ته د ځان پر ځای ور په ګوته کړي او پدې توګه هم د ګوند او هم خپل ژوبل شوی حيثيت يو څه را اعاده کړي، او همدا تکتيک د سياسي حضور تر ټولو غوره چانس دی.

که دغه ښاغلي هم داسې و نه کړي او بيا د ارګخپلو په انتر منتر زړه وتړي، نو بيا خو وګڼه چې د هماغه نوي مسلمان شوي هندو کانه پرې وشي چې هم ترې دين لاړشي او هم ...

د غوپه اصطلاح پښتنو ليډرشيپانو!؟ د رټل شوي رهين هومره مخ رونی هم ونه شوکړای.

اوس نوپرېږده چې رهين لکه سپين باز پر کليو او بانډو الوت او پرواز کوي، او دغه ليډرشيپ صيب دې په ارګ کې ګونډه وهلې وي او د بابا غوښې ډوډۍ راوړه ګردان دې تر هغې کوي چې خپل نس يې ډک شي.

او په پای کې دا لاندې ډالۍ هم ومنۍ.

زه خاطر دې نور خاطر کولای نشم
ای رقيبه که سرۍ يې نو بس پوه شه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ